# السجدة

**مکی سورة دی ۳۰ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١

**الف- لام- میم( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢

**دا مقدس کتاب( چې په حقانیت کې یې) هیڅ شک او تردید نشته، د رب العالمین له خوا نازل شوی دی.**

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۚ بَلۡ هُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن
نَّذِيرٖ مِّن قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ٣

**آیا (لجوج مشرکین) وایی چې( پیغمبر) دا کتاب له ځانه جوړ کړی( دوی درواغ وایی) بلکه قرآن تاته ستا د رب له خوا نازل شوی حق کتاب دی، تر څو وربانديې هغه خلک( ټولې بشری پرګنې) چې ستا نه وړاندې ورته( په تیرو دوه-دوه نیم زرو کالو کې) پیغمبر نه و راغلی، تنبیه کړی، کیدی شی چې دوی د هدایت په لاره روان شی.**

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ
ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ وَلَا شَفِيعٍۚ أَفَلَا
تَتَذَكَّرُونَ ٤

**الله تعالی هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه او د هغو ترمنځ ټول موجودات یې په شپږو ورځو( مرحلو) کې پیدا کړل، او بیا(څنګه چې یې د الوهیت له لوړ شان سره مناسب دی) په عرش مستقر شو. ستاسو لپاره د هغه له ذات نه غیر، هیڅ مرستندوی او شفاعت کوونکی نشته، نو بیا ولې( له دغه الهی پیغام او نصیحت نه) پند او عبرت نه اخلی؟**

يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ يَعۡرُجُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ
مِقۡدَارُهُۥٓ أَلۡفَ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ٥

**( الله تعالی هغه مقتدر ذات دی چې) له آسمانه تر ځمکي د خپل سلطنت ټولي چارې په پوره نظم سره اداره کوی، بیا د دې چارو راپور بیرته ستاسو د حساب په یوه زر کلنه ورځ پورته ځي او د هغه حضور ته وړاندې کیږی.**

ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٦

**همدا مدبر ذات په ټولو پټو او ښکاره چارو پوه او خبر، په ټولو اقداماتو برلاسی او پوره رحم کوونکی دی.**

ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ ٧

**هغه ذات چې هر شی یې په ښه او احسن شکل پیدا، او د انسان پیدایښت یې له ختې نه پیل کړیدی.**

ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٨

**بیا یې د هغه نسل د بې ارزښته او حقیرو اوبو له هغې عصارې ځخه( چې د ډیرو او ډول ډول غذاګانو مجموعه ده) پیدا کړ.**

ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ
وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ٩

**وړپسې یې( د هغه د بدن شکل او اندامونه په ښه توګه) جوړ او بیا یې ( د انسانانو د ژوند لپاره خپل ځانګړی حکم) روح پکې پو کړ. او تاسو ته یې غوږونه درکړل( چې حق خبرې او د الله تعالی نازل شوی آیتونه ورباندې واوری) سترګې یې درکړې( چې د خپل رب قدرتونه وربانډې ووینی) او زړه یې درکړ( چې له تعقل او تفکر نه کار واخلئ) خو تاسو یې( د دغو نعمتونو) ډیره لږه شکریه اداء کړه.**

وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا ضَلَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍۭ ۚ بَلْ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ
كَـٰفِرُونَ ﴿10﴾

او( لجوج کافران او منکرین) وایي: آیا کله چې( له مرګه وروسته) زمونږ بدنونه ټوټه ټوټه او له خاورو سره خاورې شی، نو رښتیا به بیرته په نوی توګه راژوندی شو؟( دغه متکبرین یوازې د الله تعالی له قدرت نه منکر نه دی) بلکه د الله پاک له ملاقات او( د اعمالو له محاسبې نه) هم انکار کوی.

۞ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ
تُرْجَعُونَ ﴿11﴾

ورته ووایه د مرګ مؤظفې پرښتې به ستاسو روح قبض کړی او بیا به د خپل رب حضور ته ورګرځئ.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا۟ رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَآ
أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَٱرْجِعْنَا نَعْمَلْ صَـٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴿12﴾

او( ای پیغمبره! او ای مخاطبه!) که ته هغه حالت ووینې( حیران به شې چې د قیامت په ورځ) دغه مجرمین، د خپل رب په حضور کې( خوار، ذلیل او خجالت) ټیټ سرونه ولاړ وی، او وایی به: ای ربه! (هغه څه چې تا یې وعده کړې وه په رڼو سترګو) مو ولیدل او( د حق دعوت) مو ښه واورید، نو مونږ بیرته دنیا ته واستوه چې نیک کارونه وکړو، بیشکه چې اوس مونږ په ټولو حقایقو باورمن یو.

وَلَوْ شِئْنَا لَـَٔاتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَىٰهَا وَلَـٰكِنْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ مِنِّى لَأَمْلَأَنَّ
جَهَنَّمَ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿13﴾

او که مونږ غوښتی،(په جبری توګه به مو) هر یو د هدایت په لاره روان کړی وی( خو هر چاته مو آزادی او اختیار ورکړ، تر څو د هدایت یا ګمراهۍ لاره د ځان لپاره پخپله خوښه وټاکی البته) زمونږ دا وعده هرومرو پوره کیدونکې ده چې دوزخ به له( باغی او سرکشو) پیریانو او انسانانو څخه( چې زمونږ آیتونه یې دروغ ګڼلی) ډک کړو.

فَذُوقُوا۟ بِمَا نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمْ ۖ وَذُوقُوا۟
عَذَابَ ٱلْخُلْدِ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

( هغوی ته به وویل شی) واخلئ د هغې سزا خوند، چې د نن ورځې د ملاقات د هیریدو له امله درته درکړی کیږی، نن مونږ هم تاسو له خپل رحمت نه بې برخې کوو. نو وڅکئ د خپل( کفر او تکذیب) د ناوړو کړو له امله د تلپاتې عذاب خوند.

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا۟ بِهَا خَرُّوا۟ سُجَّدًا وَسَبَّحُوا۟
بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ۩ ﴿١٥﴾

یوازې هغه کسان زمونږ په آیتونو ایمان لری چې له اوریدو سره سم یې ( په پوره خشوع او خضوع د الله تعالی حضور ته د عبادت) په سجدو پریوزی، د خپل رب ثنا او تسبیح ووایی، (او له عبادت څخه) په تکبر او غرور مخ نه ګرځوی.

تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا
وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾

ددې یې( د تهجد د لمانځه لپاره) د خوږو خوبونو او استراحت له بسترو څخه لیرې وی، او د خپل رب په حضور کې( له عذاب نه) د ویرې او( رحمت او اجر ته) د امید په درلودلو سره، دعاګانې کوی، او له هغې روزی نه چې مونږ دوی ته ورکړې، صدقې او خیراتونه ورکوی.

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِىَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾

نو الله تعالی ورته د دغو نیکو اعمالو په بدل کې داسې نعمتونه پټ ساتلی چې هیچا ته یې معلومات نشته( د یوه مبارک حدیث په استناد، الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره په جنت کې داسې نعمتونه پټ ساتلی چې مثال یې نه سترګو لیدلی، نه یې غوږونو تعریف اوریدلی او نه د کوم انسان په زړه کې ګرځیدلی دی).

أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا ۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ ﴿١٨﴾

آیا مؤمنان او فاسقان سره یو شان دی؟( نه هیڅکله دغه دوه ډلې سره) یو شان نه دی.

أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡمَأۡوَىٰ نُزُلَۢا بِمَا
كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٩

**هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه یې کړی، په اجر کې به ورته( د الهی) میلمستیا په توګه، جنت د دایمی هستوګنې لپاره ورکړی شی.**

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُواْ فَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَآ أُعِيدُواْ
فِيهَا وَقِيلَ لَهُمۡ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ
تُكَذِّبُونَ ٢٠

**خو هغه کسان چې نافرمانی یې کړې، هستوګنځی یې دوزخ دی، که ترې د وتلو اراده (او هڅه) وکړی بیرته به ورګرځول کیږی، او( د اهانت په ډول) به ورته ویل کیږی، خوندونه واخلئ د دوزخ له هغه عذابه چې تاسو( په دنیا کې) تل دروغ ګڼله.**

وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَدۡنَىٰ دُونَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَكۡبَرِ لَعَلَّهُمۡ
يَرۡجِعُونَ ٢١

**او مونږ به دوی( د قیامت) د ستر عذاب نه وړاندې( په دنیا کې هم) له کوچنی عذاب( لکه وچکالی، وبایی ناروغی او زلزلو) سره مخامخ کړو. کیدی شی(له ګناهونو څخه سمې لارې) ته راوګرځی.**

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعۡرَضَ عَنۡهَآۚ إِنَّا مِنَ
ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ٢٢

**څوک دی له هغه نه بل لوی ظالم، چې د الله تعالی په آیتونو او دلایلو ورته نصیحت وشی، او دی ترې( په اعتراض سره) مخ واړوی؟ مونږ به یقیناً له( دغه ډول) مجرمینو نه انتقام واخلو.**

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآئِهِۦۖ
وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٢٣

( ای پیغمبره دا ناپوهه خلک، په تا باندې د قرآن نزول له امکانه لیرې ګڼي او غواړي نور خلک هم ترې منکر یا په شک کې وغورځوی، خو د الله تعالی له خوا پخپل یو بنده باندې د کتاب نزول د انسانی تاریخ کومه ځانګړې او لومړنۍ واقعه نه ده بلکه مونږ له دې وړاندې نورو پیغمبرانو ته هم کتابونه نازل کړی) چې یو یې هم موسی ته د کتاب( تورات) نزول و( او اوس مو تاته هماغه ډول آسمانی کتاب« قرآن» نازل کړی نو، ای مخاطبه!) باید د هغه د نزول په باب شک او تردید و نه کړې. او( لکه څنګه چې مو هغه کتاب( تورات) د بنی اسرائیلو لپاره د هدایت منبع ټاکلې وه،(قرآن مو هم ستاسو د دنیوی او اخروی شرف او عزت او هدایت د منبع په حیث نازل کړی دی).

وَجَعَلۡنَا مِنۡهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا لَمَّا صَبَرُواْۖ وَكَانُواْ
بِـَٔايَٰتِنَا يُوقِنُونَ ٢٤

او د بنی اسرائیلو یو شمیر ( حقیقی مؤمنان مو چې د ستونزو، کړاوونو او بیلا بیلو حوادثو په مقابل کې یې) د صبر او ثبات رسی ټینګه نیولې وه، د رهبرانو په حیث وټاکل تر څو زمونږ په امر او فرمان( خلک) د هدایت په لاره رهی کړی.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ
يَخۡتَلِفُونَ ٢٥

یقیناً چې ستا رب به د قیامت په ورځ د دوی( اهل الحق او منکرانو) تر منځ د اختلافی مسائلو( او ډلو ټپلو جوړولو) په باب وروستی فیصله او قضاوت وکړی.

أَوَلَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ يَمۡشُونَ فِي
مَسَٰكِنِهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٍۚ أَفَلَا يَسۡمَعُونَ ٢٦

آيا (مشركان) د هغو ولسونو د سرنوشت له داستانونو څخه د عبرت درس نه اخلي، چې له دوی وړاندې مو هلاک کړي او اوس يې دوی په کنډواله شويو  كليو كورونو تيريږي راتيريږي؟ بيشكه چې په دغو( داستانونو) كې د عبرت درسونه پراته دي نو ولې (د حق خبره) نه اوري.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا
تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ ۖ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾

آيا دوی نه پوهيږي چې مونږ وچې او شاړې ځمكې ته اوبه استوو او د هغو په وسيله نباتات او كښتونه راټوكوو، چې هم ترې د دوی څاروي( پاڼې او واښه خوري) او هم ترې پخپله  د دوی لپاره غله دانه برابريږي، نو آيا( د الله تعالى د رحمت آثار) نهويني( او نه مني چې په همدې توګه الله تعالى په مړو جسدونو كې روح ننباسي او راژوندي كوي يې).

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٨﴾

او( مشركان د ملنډو په ډول مؤمنانو ته) وايي چې كه رښتيا وايي دغه فتح او برى( چې تاسو ورته د ځان لپاره  په خوښۍ انتظار باسئ) كله راځي؟

قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾

ورته ووايه( د مؤمنانو) د حتمي فتحې او برى په ورځ به كافرانو ته ايمان راوړل هيڅ ګټه ونه رسوی او نه به ورته مهلت وركړى شي.

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانتَظِرْ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

نو( اى پيغمبره) له هغوى نه مخ وګرځوه ( جهالت او حماقت ته يې اهميت مه وركوه او د تبليغ او دعوت له دوام سره د الله تعالى نصرت او فتحې ته) سترګې په لار اوسه، هغوى( هم  ستا لپاره د ناوړو حوادثو) انتظار باسي( د يادولو وړ ده چې دا مبارك آيت د جهاد له حكم نه وړاندې نازل شوى دى).

« تمت سورة السجدة بفضل الله رب العالمين»

=======================